

# د افت ضد درملو خونديتوب – دفع کول

UCDAVIS
COLLEGE OF AGRICULTURAL & ENVIRONMENTAL SCIENCES

معلوماتي پاڼه

## د افت ضد درملو دفع کول ولې مهم کار دی؟

کېدای شي داسي وختونه پېښ شي چي د افت ضد درملو پاته شوني د بيا کارولو يا ساتلو وړ نه وي، او يا د افت ضد درملو د پاته شوو خالي ډبو يا قُطيانو دفع کولو ته اړتيا وي. د افت ضد درملو د کارولو د لارو چارو په شان، د دغو کيمياوي موادو او ککړو ډبو په دفع کولو کي هم خاصي پاملرني ته اړتيا شته ترڅو انسانان، حيوانات او چاپېرېال يې له خطرونو څخه وساتل شي. هيڅکله د افت ضد درمل د خواړو په لوښو کي مه ساتئ.

## په خوندي ډول د افت ضد درملو دفع کول

- که امکان ولرئ د بني خوا انځورونه يو په بل پسي تعقيب کړئ.
  - o د دواپاشونکي په ټانکی کي د افت ضد درملو د ډبي د پاته موادو خالي کول د افت ضد درملو د ضايع کېدو مخه نيسي او د لګښت له اړخه ډېر اغېزناک تماميږي.
- که چيري د افت ضد درمل د استفادې وړ نه وي ...
  - o د قُطي يا ډبي پر ټاپه يي د دفع کولو لارښووني ولولئ
  - o که نه نو په "١ درجه" ډېران کي يې، چي د ترټولو خطرناکو موادو لپاره وي، دفع کړئ.
  - o که چيري "١ درجه" ډېران موجود نه وي، نو په قُطيانو يا ډبو کي د پاته کېدونکو بېکاره افت ضد درملو لپاره يوه ساحه ځانګړې کړئ. د ساحي پر شاوخوا پنجره را تاو کړئ او د خبرداری علامي پرې ونښلوئ.
  - o د دفع کولو د کړنلارو او پاليسيانو لپاره د کرني وزارت محلي دفتر ته ورشئ.

## په خوندي ډول د افت ضد درملو د قُطيانو \ ډبو دفع کول

- د ډبو يا قُطيانو د دفع کولو لپاره د ښي لاس انځورونه پړاو په پړاو تعقيب کړئ.
  - o په ياد ولرئ چي ډبه څيري کړئ
  - o درې ځله پرېول شوي ډبي په ډېران کي دفع يا بېرته د توليد لپاره کارول کېدای شي. خو بايد لومړی درې ځله پرېول شي.
- که چيري نافذه قوانين اجازه ورکړي، نو د افت ضد درملو قُطياني سوځول کېدای هم شي.
  - o ډبي په مکمل ډول خالي کړئ او د اضافي پنځو دقيقو لپاره يي سر کښته خوا ته ونيسئ.
  - o کله چي ډبه کړوپه شي، سمه يي کړئ او بېرته يي سر ور کښته کړئ، ډبه سره وښوروئ او د پنځو ثانيو لپاره يي ونيسئ.
  - o ډبي يا قُطياني په يو خوندي ځای کي له خلکو او حيواناتو څخه ليري په داسي حال کي وسوځوئ چي نری باد وچلېږي، نه تېز باد.
  - o د ډبو يا قطيانو پر خرې باندي خښته يا ډبره کښېږدئ او اور ور واچوئ. له اور څخه د باد د لوري خلاف خوا ته ودرېږئ، او ترڅو چي اور په مکمل ډول وژل کېږي، د ساحي څارنه وکړئ.

| د درې ځله پرېولو اهميت. له يوی ٢٥ ليټره ډبي څخه د درملو پاته شوني | | | |
|---|---|---|---|
| خالي شوی ډبه، چي پرېول شوي نه وي | يوځل پرېول شوې ډبه | دوه ځله پرېول شوې ډبه | درې ځله پرېول شوې ډبه |
| پاته شوني = ١٤،٢ ګرامه | پاته شوني = ٠،٢١ ګرامه | پاته شوني = ٠،٠٠٣٤ ګرامه | پاته شوني = ٠،٠٠٠٠٥ ګرامه |




١. د ځان د ساتني او خونديتوب تجهيزات واغوندئ.




٢. ډبه يا قُطی د دوا شيندونکي په ټانکی کي خالي کړئ. د ٣٠ ثانيو لپاره يي سرچپه ورته ونيسئ.



٣. د ډبي ١/٤ برخه له اوبو څخه ډکه کړئ، سر يي په سرپوښ ور بند کړئ.



٤. په پاملرني سره يي وښوروئ ترڅو اوبه د ډبي دننه برخه ټوله پرېولي.




٥. ډبه د دواشيندونکي په ټانکی کي خالي کړئ. د ٣٠ ثانيو لپاره يي سرچپه ورته ونيسئ.



٦. دريم، څلورم او پنځم پړاونه تکرار کړئ.



٧. دريم، څلورم او پنځم پړاونه تکرار کړئ.



٨. ډبه څيري کړئ، ترڅو بيا استفاده څني ونسي.




٩. د بيا توليد لپاره يې وکاروئ، او يا يې د امبارو ښخولو په ځای، يا يو خوندي ځای کي ښخه کړئ.

د ډبي يا قطی د دفع کولو ٩ پړاونه[١]

ترتيب کوونکي: فرانک زلوم، پاټ تامپسن، نهضت الله نهضت (پين)، مارک هيندرسن او مارک بيل، جولای ٢٠٠٩

**ماخذونه:** د کوچنيو کروندو لپاره د افت ضد درملو خونديتوب، د کاليفورنيا پوهنتون د کرهنيزو او طبيعي منابعو خپرونه، ٢١٥٥٥ ګڼه
د افت ضد درملو خوندي او اغېزناک استعمال، د کاليفورنيا پوهنتون د کرهنيزو او طبيعي منابعو خپرونه، ٣٣٢٤ ګڼه

**د انځورونو کريډيټ:** [١] د پرډيو د افت ضد درملو پروګرام – پرډيو پوهنتون. د کوپراتيفونو د خدماتو پراختيا

**د لا زياتو معلوماتو لپاره وګورئ:** نړيوال پروګرامونه: http://eafghanag.ucdavis.edu

**د خپرولو حق د کاليفورنيا پوهنتون له ريجينټز ډاويس څانګي سره، ٢٠١١. ټول حقوق خوندي دي.**